امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

هفته نامه مدیریت حوادث

۲۲ الی ۲۷ سنبله ۱۴۰۴

شماره یکصدو بیست و دوم

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۴۲۸,۵۷۸) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، په خپل کاری دفتر کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۴ نېټه د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې مؤسسې له مرستیال، محترم شفیق‌الله مشفق سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې لیدنه کې، ترابی صاحب وویل چې د افغانستان خلک په بېلابېلو برخو کې مرستو ته اړتیا لری او موږ هڅه کوو چې د مسؤلې ادارې په توګه موسسو ته زمینه برابره کړو ترڅو په هغو برخو کې چې توان لری، له خلکو سره مرستې وکړي...

ادامه در صفحه۲

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې او د افغانستان لپاره د پرمختیایی او بشری خدماتو مؤسسې ترمنځ د (۲۹۰,۰۸۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې لوی رئیس؛ الحاج ملانورالدین ترابی د افغانستان لپاره د پرمختیایی او بشری خدماتو (DHSA) مؤسیسې له مرستیال ایمل صالح زی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۴ نېټه په خپل کاری...

ادامه در صفحه۲

د پېښو چارو د همغږۍ معین د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست څخه څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، له لغمان...

ادامه در صفحه۳

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې لوی رئیس، د لغمان ولایت علینګار ولسوالۍ ته په سفر کې د یو کیبلي پل جوړېدو له ځای څخه لیدنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، لغمان ولایت ته په سفر کې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ رئیس، قاری خیر محمد غازی او یو شمېر سیمه ییزو مشرانو...

ادامه در صفحه ۴

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۴۲۸,۵۷۸) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاری دفتر کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۴ نېټه د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې مؤسسې له مرستیال، محترم شفیق‌الله مشفق سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې لیدنه کې، ترابي صاحب وویل چې د افغانستان خلک په بېلابېلو برخو کې مرستو ته اړتیا لری او موږ هڅه کوو چې د مسؤلې ادارې په توګه موسسو ته زمینه برابره کړو ترڅو په هغو برخو کې چې توان لری، له خلکو سره مرستې وکړی.

په ورته وخت کې، د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې مؤسسې مرستیال، محترم شفیق‌الله مشفق د لیدنې د فرصت برابرولو په پار له ترابي صاحب څخه مننه وکړه او د مؤسسې د فعالیتونو او روانو پروژو په اړه یې مفصل راپور غونډې ته وړاندې کړ.

په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د څلور سوه اته ویشت زره او پنځه سوه او اته اویا (۴۲۸,۵۷۸) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې د یادې موسسې د بېړنیو پروګرامونو تر چتر لاندې ۴۷۵ کورنیو ته د جوزجان ولایت په شبرغان ښار او فیض‌آباد ولسوالۍ او همدارنګه د فاریاب ولایت په میمنه ښار او ګرزیوان او پشتون‌کوټ ولسوالیو کې هرې کورنۍ ته په دوو قسطونو کې ۴۰۰ ډالر ووېشي.

همدارنګه، د مرستو د وېش په دې کلیو کې به یاده موسسه د خطر د مدیریت کمیټې، ورکشاپونه او د مخکې له مخکې د خبرتیا سیستمونه جوړ او ترسره کړی او وقایوی اقدامات به ترسره او د خطر نقشه به ترتیب او وژباړل شي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان لپاره د پرمختیایی او بشری خدماتو مؤسیسې ترمنځ د (۲۹۰,۰۸۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس؛ الحاج ملانورالدین ترابي د افغانستان لپاره د پرمختیایی او بشری خدماتو (DHSA) مؤسیسې له مرستیال ایمل صالح زی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۴ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په پیل کې، محترم ترابي صاحب د یادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او وویل چې افغانستان یو له هغه هیوادنو څخه دی چې د طبعی او غیر طبعی پېښو سره زیات مخ دی، نو له همدې امله موږ د مؤسسو لپاره زیاتمنو شویو ته د رسېدنې په برخه کې د پام وړ آسانتیاوې رامنځته کړې دی او له مؤسسو څخه مو دا هیله ترڅو خپلې پروژې پر چټک او شفاف ډول سره ترسره کړی.

ورپسې د (DHSA) مؤسسې مرستیال؛ د خپلې تطبیقېدونکې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، چې موږ به خپله پروژه پر وخت او ستاسو د لارښوونو سره سمه ترسره کوو، همدراز نوموړی په چارو کې د دې ادارې د چټکتیا ستاینه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې یاده تفاهم نامه د دوه سوه او نوی زره او څلور اتیا (۲۹۰,۰۸۴) ډالرو په ارزښت لاسلیک شوه، چې له مخې به یې د هېواد په دري کابل، هلمند او روزګان ولایتونو کې د سېلابونو او وچکالۍ له امله ۱۶۶ زیانمنو شویو کورنیو ته سرپناه وو د ترمیم لپاره نغدی پیسې په داسې ډول سره، چې د هلمند ولایت ۹۷ کورنیو ته په مارجه، سنګین، نهرالسراج ولسوالیو او د ارزګان ولایت ۴۷ کورنیو ته په دهراود او ترینکوټ ولسوالیو او د کابل ولایت ۲۲ کورنو ته، چې انتخاب به یې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوری کېږی، چې هرې کورنۍ ته به له ۵۵۰ ډالرو څخه ۵۰٪ د کار په پیل او ۵۰٪ د کار له بشپړېدو وروسته ورکول کېږی. او همدارنګه په یادو ولایتونو کې به ۶۲ کورنیو ته د سرپناه د جوړولو په موخه په داسې ډول سره، چې د هلمند ولایت په سیګین او مارجه ولسوالیو کې ۳۷ کورنیو، د اروزګان ولایت په دهراود ولسوالۍ کې ۹ کورنیو او په کابل ولایت کې ۱۶ کورنیو ته، چې انتخاب به یې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوری کېږی، هرې کورنۍ ته به له ۲۰۰۳ ډالرو څخه ۵۰٪ د کار په پیل او پاتې ۵۰٪ به د کار له بشپړېدو وروسته ورکړل شي.

د پېښو چارو د همغږۍ معین د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه شارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، له لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکنډی، میدان وردګ، لوګر او پکتیا ولایتونو څخه د لیدنو وروسته، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۴ نېټه پکتیکا ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج عبد الخالق عابد او د خپل مل پلاوی په شتون کې د پکتیا له والی، محترم مولوی مخدوم عبدالسلام سعادت سره وکتل.

په دې ناسته کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومی وضعیت څېړل، د اسلامی امارت د عالی مقام مشرتابه د فرمانونو، احکامو او مکتوبونو د پلی کېدو څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلی کېدو څارنه، د وقایوی پروژو ارزونه، د بشردوستانه مرستو د وېش تعقیبول، د ماین پاکۍ، د نشراتو چارو او همدارنګه د موجودو ستونزو او وړاندیزونو اورېدنه یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده چې د خپلو قانونی صلاحیتونو او دندو په چوکاټ کې به د وقایوی پروژو د پلي کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والي په برخه کې هر اړخیزه همکاری وکړی.

وروسته د پکتیکا محترم والی، د زیانمنو په برخه کې د یادې ادارې له هڅو او رسېدنې څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنېدو ته په اشارې سره وویل چې د پکتیکا خلک د طبیعی پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دی او د بشردوستانه مرستو او وقایوی پروژو ته اړتیا لری.

ورپسې، یاد پلاوی د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست د چارو بهیر یې له نږدې وڅېړه. د لیدنې پر مهال، د پېښو چارو د همغږۍ معین له رئیس او کارکوونکو سره خبرې وکړې، د دوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل، او د اسنادو او فعالیتونو د ارزونې ترڅنګ یې کارکوونکی د دندو د لایحې پر بنسټ د چټکو، پر وخت او اغېزمنو خدماتو وړاندې کولو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوی په دغه ریاست کې خپل څارنیز او رهنمودی بهیر پیل کړ.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، د لغمان ولایت علینګار ولسوالۍ ته په سفر کې د یو کیبلي پل جوړېدو له ځای څخه لیدنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، لغمان ولایت ته په سفر کې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، قاری خیر محمد غازی او یو شمېر سیمه ییزو مشرانو په ملتیا د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۳ نېټه د علینګار ولسوالۍ اړوند د برخان بابا د کیبلی پل جوړېدو له ځای څخه لیدنه وکړه.

محترم ترابی صاحب د پل جوړېدو له ځای څخه د لیدنې پر مهال وویل، چې د پل د نشتون له امله د سیمې خلک له ستونزو سره مخ دی او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده، چې د خلکو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړی او د خلکو لپاره ټولې آسانتیاوې برابرې کړی. هغه د کیبلی پل جوړولو د پروژې د کار د پیل او لوړ کیفیت په پام کې نیولو په هکله مسؤلینو ته اړینې لارښوونې هم وکړې.

د ادارې لوی رئیس وویل، چې د دغه پل د جوړولو لپاره مو د درې میلیونه او څلور نوی زره او اته سوه څلور پنځوس (۳,۰۹۴,۸۵۴) افغانیو بودجه منظوره کړې ده او په نږدې درېیو میاشتو کې به یې د جوړولو کارونه پای ته و رسېږی.

د یادونې وړ ده، چې دا کیبلی پل چې درې کاله وړاندې د سختو سېلابونو له امله ویجاړ شوی و، د علینګار له عمومی سړک سره ۱۳ لوی او کوچنی کلی نښلوی او په جوړېدو سره به یې تقریباً پنځلس زره (۱۵,۰۰۰) کورنۍ د تګ راتګ لپاره ترې ګټه پورته کوی.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د تورخم په عمری پنډغالي کې د دې ادارې د پنډغالي د خدماتو وړاندې کولو له بهیر څخه څارنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې ملی آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی ننګرهار ولایت ته په سفر کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۲ نېټه د تورخم په فرضی کرښه کې د دې ادارې د پنډغالی د خدماتو وړاندې کولو له بهیر څخه څارنه وکړه.

محترم ترابی صاحب د پنډغالی له مسؤل, مولوی محمد هاشم سره وکتل او د موجودو ستونزو او ننګونو په اړه یې معلومات تر لاسه کړل. هغه وویل, چې زموږ کډوال چې له کلونو وروسته په اجباری توګه هېواد ته ستنېږی، د غوره خدمتونو مستحق دی او موږ به په دې برخه کې هڅې کوو.

همدارنګه نوموړی د یاد پنډغالی له روغتیایی کلینیک څخه لیدنه وکړه او له ډاکټر هدایت الله همدرد څخه، چې په دی پنډغالی کې موظف دی، د موجودو امکاناتو، د ناروغانو شمېر او کاری ستونزو په اړه راپور واورېده او ژمنه یې وکړه چې ښه امکانات به برابر کړی.

ترابی صاحب د پنډغالی له بېلابېلو برخو د لیدنې ترڅنګ، د هڅونې په موخه مسؤلینو ته نغدې مرستې هم ورکړې.

د پېښو چارو د همغږۍ معين د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست څخه ځارنه وکړه او د دې ولايت له والي سره يې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د پېښو چارو د همغږۍ معين، محترم الحاج ملا عبدالولی ځارنوال (حاجی وارث)، د يو تخنيکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ته ولايتونو ته د رسمی سفر په دوام، له لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، باميان، غور، دايکنډۍ، ميدان وردګ او لوګر ولايتونو څخه د ليدنو وروسته، د ۱۴۴۷ کال د ربيع الاول ۲۳ نېټه پکتيا ولايت ته ورسېد.

په پيل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معين د ياد ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس، محترم نثاراحمد نجات او د خپل مل پلاوی په شتون کې د پکتيا له والی، محترم الحاج ملا مهرالله حماد سره وکتل.

په دې ناسته کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معين د نورو ولايتونو د سفرونو يادونه وکړه او د سفر موخه يې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياستونو د عمومی وضعيت څېړل، د اسلامی امارت د عالی مقام مشرتابه د فرمانونو، احکامو او مکتوبونو د پلی کېدو ځارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه ليکونو د پلی کېدو ځارنه، د وقايوی پروژو ارزونه، د بشردوستانه مرستو د وېش تعقيبول، د ماين پاکۍ، د نشراتو چارو او همدارنګه د موجودو ستونزو او وړانديزونو اورېدنه وبلله.

هغه ټينګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده چې د خپلو قانونی صلاحيتونو او دندو په چوکاټ کې به د وقايوی پروژو د پلې کېدو، د زيانمنو بېړنيو اړتياوو د پوره کولو او د طبيعی پېښو او خطرونو د مديريت د ښه والی په برخه کې هر اړخيزه همکاری وکړی.

وروسته د پکتيا محترم والی، د زيانمنو په برخه کې د يادې اداري له هڅو او رسېدنې څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولايت زيانمنېدو ته په اشارې سره وويل چې د پکتيا خلک د طبيعی پېښو له امله په لوړه کچه زيانمن دی او د بشردوستانه مرستو او وقايوی پروژو ته اړتيا لری.

ورپسې ياد پلاوی د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست څخه ليدنه وکړه او د دې رياست د چارو بهير يې له نږدې وڅېړه. د ليدنې پر مهال، د پېښو چارو د همغږۍ معين له رئيس او کارکوونکو سره خبرې وکړې، د دوی ستونزې او وړانديزونه يې واورېدل، او د اسنادو او فعاليتونو د ارزونې ترڅنګ يې کارکوونکی د دندو د لايحې پر بنسټ د چټکو، پر وخت او اغېزمنو خدماتو وړاندې کولو ته وهڅول.

همدارنګه، د پېښو چارو د همغږۍ معين د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست له ګدامونو څخه ليدنه وکړه او په ځانګړې ډول يې د خوراکی او غير خوراکی توکو د ساتنې په پار لازمې لارښوونې وکړې.

د يادونې وړ ده، چې ياد پلاوی په دغه رياست کې خپل ځارنيز او رهنمودی بهير پيل کړ.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د لغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ په شیخ صاحب کلي کې له زلزله‌ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه او د شهیدانو ورثه او ټپیانو ته یې نغدې مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د لغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ په شیخ صاحب کلی کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۲ نېټه له زلزله‌ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه او د شهیدانو ورثه او ټپیانو ته یې نغدې مرستې وویشلې.

په دې ولسوالۍ کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس, قاری خیرمحمد غازی، د علینګار ولسوال مولوی غلام محمد جراح او یو شمېر مشرانو د محترم ترابی صاحب هرکلی وکړ.

د ادارې لوی رئیس د شهیدانو لپاره د دعا تر کولو وروسته له ټپیانو سره خواخوږی وکړه او زیاته یې کړه چې له زلزلې راهیسې یې له ویجاړیو څخه د شهیدانو د ایستلو، د ټپیانو د لېږد او د مرستو د وېش بهیر له نږدې څارلی دی. او اوس مهال د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د لارښوونې پر بنسټ د کونړ، ننګرهار او لغمان په ولایتونو کې د مرستو د رسونې او د کارکوونکو او مجاهدینو د ستونزو د اورېدو په موخه سفرونه ترسره کوی او د زیانمنو شویو کورنیو لپاره د نغدو مرستو د وېش لړۍ مو هم پیل کړې ده.

د یادونې وړ ده چې د هر شهید ورثه ته شل زره (۲۰،۰۰۰) افغانۍ او هر ټپی ته لس زره (۱۰،۰۰۰) افغانۍ ووېشل شوې.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګدامونو څخه څارنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګدامونو څخه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۲ نېټه څارنه وکړه.

محترم ترابی صاحب د ګدامونو له موجودی، د موادو نېټې او د موادو د ځای پر ځای کولو له نظم څخه څارنه وکړه او پر دې یې ټینګار وکړ چې شته توکی باید په سمه توګه خوندی کړل شی، ساتنه یې وشی او په توزیع کولو کی یې تلوار وسی.

نوموړی د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له رئیس، محترم قاری داد محمد حسینی څخه بشپړ راپور تر لاسه کړ او ویې ویل چې د ګدامونو د توکو نېټې باید وخت پر وخت وڅېړل شی او د اړتیا پر مهال د پېښو له امله زیانمنو ته ووېشل شی.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د هیلو ټرسټ موسسې له رئیس او د رېاکټ موسسې د نړیوالو عملیاتو له مسؤل سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د هیلو ټرسټ نړیوالې موسسې له رئیس محترم ډاکتر فرید همایون او د رېاکټ موسسې د نړیوالو عملیاتو له مسؤل پال تاولر سره چې د کونړ ولایت د نورګل ولسوالۍ غازی آباد پنډغالی پر لور تلونکی وو، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۲ نېټه وکتل.

محترم ترابي صاحب مېلمنو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د رېاکټ موسسې مرستې په ځانګړې ډول د لټون او ژغورنې په وسایلو او تجهیزاتو کې مهمې وبللې. نوموړي ټینګار وکړ چې د ښېړنیو حالاتو لپاره د اغېزناکې ځواب ویني په موخه د ادارې د داخلی وړتیاوو پیاوړی کول یوه جدی اړتیا ده. هغه زیاته کړه چې د بیړنیو حالاتو پر مهال د بهرنیو ټیمونو راتګ ستونزمن او لږ اغېزناک وی، نو غوره لاره داده چې د ادارې داخلی امکانات پیاوړی شی، او له موسسې یې وغوښتل چې په دې برخه کې همکاری وکړی.

ورته مهال، د رېاکټ موسسې د نړیوالو عملیاتو مسؤل، پال تاولر، له محترم ترابي صاحب څخه د لیدنې د فرصت برابرولو په پار مننه وکړه او ویې ویل چې زموږ موخه د دې ادارې سره د همکاریو د څرنګوالی ارزونه ده. هغه زیاته کړه چې د پېښو پر مهال همغږۍ او چمتووالی ځانګړی اهمیت لری او موږ لېوالتیا لرو چې د یو ګډ هوکړه لیک له لارې د دې ادارې سره همکاری ولرو، څو افغانان په بیړنیو حالاتو کې په خپله په لومړی سر کې اقدام وکړی. نوموړی ټینګار وکړ چې زموږ هڅه دا ده چې د موجوده امکاناتو او یا هم د نورو سرچینو له لارې د ښېړنیو پېښو د ځواب وینې لپاره اړین تجهیزات برابر کړو.
همدارنګه، محترم ترابي صاحب د یادو موسسو مسؤلینو ته وویل چې کله تاسې پنډغالی ته ورسېږئ، نو په دوه ساعتونو کې به پخپله ووینئ چې د زلزله ځپلو لپاره د ښېړنیو مرستو څومره اړتیا ده.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کونړ ولایت په نورګل ولسوالۍ کې د مزار درې د سهیل تنګه له پنډغالي څخه لیدنه وکړه او د شهیدانو او ټپیانو لپاره یې د نغدو مرستو د وېش بهیر پیل کړ

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس, مولوی محمد مبین مفتون عمر او د مرکزی پلاوی په ملتیا د نورګل ولسوالۍ د مزار درې د سهیل تنګه له پنډغالی څخه چې د وروستۍ زلزلې له امله زیانمن شوی په کې مېشت دی, د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۲ نېټه لیدنه وکړه او د شهیدانو او ټپیانو لپاره د دعا ترڅنګ د هغوی د کورنیو لپاره یې د نغدو مرستو د وېش لړۍ هم پیل کړه.

په دې دره کې، د سرحدی لوا قوماندان، مولوی محمد عمر یاسر, د کلیو د پراختیا رئیس، د کډوالو چارو رئیس او نورو سیمه ییزو مسوولینو د ترابي صاحب هرکلی وکړ. نوموړی وویل، که څه هم د پېښې په لومړی ورځ د زیانمنو سیمو لیدنې ته راغلی و، خو د مرستو د همغږۍ لپاره کابل ته ستون شو او اوس د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د لارښوونې پر بنسټ, د مرستو د وېش، د خلکو ستونزو او د مسوولینو او مجاهدینو د کاروونو د څارنې لپاره یې کونړ ته سفر کړی دی.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس د نغدو مرستو د وېش پر مهال د شهیدانو له کورنیو سره خواخوږی وکړه او ویې ویل, چې دا مرستې یوازې د یادونې او تسلیت په موخه دی. د دې پروسې پر مهال د هر شهید کورنۍ ته شل زره (۲۰,۰۰۰) افغانی او هر ټپي ته لس زره (۱۰,۰۰۰) افغانی ووېشل شوې.

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي اداري لوی رئیس د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د اداری ودانۍ لپاره ځانګړې شوې ځمکه وکتله

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، کونړ ولایت ته د سفر پر مهال له هغې ځمکې څخه لیدنه وکړه، چې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د اداری ودانۍ د جوړېدو لپاره ځانګړې شوې ده.

محترم ترابي صاحب د دې ځمکې د کتنې پر مهال وویل، چې د اداری ودانۍ جوړېدل خلکو ته د خدمت رسونې په بهیر کې ګټور تمامېږي او د کارکوونکو لپاره به زیاتې اسانتیاوې رامنځته کړي. نوموړي زیاته کړه چې د اداری د ودانیو د جوړولو چارې په پنځو ولایتونو کاپیسا، میدان وردګ، کندهار، سمنګان او خوست کې په عملی ډول پر مخ روانې دي.

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداري لوی رئیس ټینګار وکړ چې اداری ودانۍ باید ښار ته نږدې او په داسې ځای کې جوړه شي چې خلک په اسانۍ سره لاسرسی ورته ولري.

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي اداري لوی رئیس د کونړ ولایت د ځوکۍ ولسوالۍ د دیوه ګل درې په زوړ کلي کې د زوړ کلي له پنډغالي څخه لیدنه وکړه او د شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته یې نغدې مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۱ نېټه د کونړ ولایت د ځوکۍ ولسوالۍ د دیوه ګل درې په زوړ کلی کې د زوړ کلی له پنډغالی څخه لیدنه وکړه او د شهیدانو او ټپیانو لپاره یې د دعا کولو ترڅنګ د هغوی کورنیو ته نغدې مرستې هم ووېشلې.

محترم ترابي صاحب وویل، چې د پېښې په لومړۍ ورځ موږ له ګڼ شمېر مرکزی کارکوونکو سره زلزله‌ځپلو سیمو ته راغلی وو او له ویجاړیو څخه د شهیدانو د ایستلو، چورلکو ته د ټپیانو د انتقال او وروسته بیا روغتونونو ته د رسولو په بهیر کې مو مرسته کړې وه، او اوس مهال، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د لارښوونې پر بنسټ، زیانمنو کورنیو ته د مرستو د وېش او رسېدنې د بهیر د څرنګوالی د څارنې په موخه دې ولایت ته راغلی یو، څو وګورو چې مرستې تر کومه اندازه مستحقو کسانو ته رسېدلې دي.

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداري لوی رئیس، د مرستو د وېش پر مهال د شهیدانو له کورنیو سره خواخوږي وکړه او ویې ویل، چې دا نغدې مرستې یوازې د تسلیت او یادونې په موخه دي. نوموړي د هر شهید کورنۍ ته شل زره (۲۰،۰۰۰) افغانۍ او هر ټپي ته لس زره (۱۰،۰۰۰) افغانۍ ووېشلې.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کونړ ولایت د ځوکۍ ولسوالۍ په دیوه‌ګل دره کې د زلزله ځپلو لپاره د اندر لچک له پنډغالي څخه لیدنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ننګرهار ولایت د دره نور ولسوالۍ زلزله‌ځپلو سیمو ته له سفر وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۰ نېټه د کونړ ولایت دیوه‌ګل درې ته ولاړ او له اندر لچک پنډغالی څخه چېرې چې د وروستۍ زلزلې له امله زیانمن شوی کسان مېشت دی, لیدنه وکړه.

محترم ترابي صاحب, د شهیدانو او ټپیانو له کورنیو سره د خواخوږۍ څرګندولو پر مهال وویل، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د لارښوونې له مخې، د زلزله‌ځپلو لپاره د مرستو او رسېدنې بهیر د ځېرلو په موخه یې دغې درې ته سفر کړی دی.

د ادارې لوی رئیس, له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له رئیس, مولوی محمد مبین مفتون عمر او سیمه ییزو مسؤلینو څخه د مرستو د رسونې بشپړ راپور واورېده او د لا زیاتو آسانتیاوو د برابرولو لپاره یې لازمې لارښوونې وکړې. نوموړی زیاته کړه چې د اسلامی امارت له لورې د نغدو مرستو وېش پیل شوی، او د هر شهید د ورثه لپاره شل زره (۲۰،۰۰۰) افغانۍ او د هر ټپی لپاره لس زره (۱۰،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې دی.

ترابي صاحب د اسلامی امارت د مجاهدینو د خدمتونو ستاینه وکړه او په ځانګړې توګه یې د اندر لچک پنډغالی په ۵۰ تنه مېشتو کسانو نغدې مرستې ووېشلې.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو روزنیز پروګرام ترسره شو

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه, د کارکوونکو چارو ریاست له لورې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۱ نېټه د دې ادارې د کارکوونکو لپاره په اداری چارو کې د ظرفیت لوړولو روزنیز پروګرام د دې ادارې د غونډو په تالار کې ترسره شو.

دا روزنیز پروګرام، په بېلابېلو اداری برخو لکه، پلان جوړونې، د اجراآتو د ارزونې او نورو اړوندو برخو کې د کارکوونکو د مسلکی وړتیاوو د پیاوړتیا په موخه ترسره شو او د یادې ادارې رئیسانو, آمرینو او کارکوونکو ګډون په کې وکړ.

د پروګرام په پیل کې د کارکوونکو چارو ریاست د ادارې د پراختیا او روزنې آمر, محترم نورآغا صاحب زاده د ظرفیت لوړولو لپاره د روزنیزو پروګرامونو د اهمیت په اړه خبرې وکړې او ویې ویل، چې دا پروګرام به څو پړاوونه ولری او د ادارې د کارپوهانو له لورې به په بېلابېلو برخو کې معلومات شریک او پریزنټېشنونه وړاندې شی.

وروسته د کړنو د ارزونې لوی مدیر، محترم محمد رفیع ساحل ګډونوالو ته د پلان جوړونې، د کړنو د ارزونې، د دندو د لایحې او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه هر اړخیز پریزنټېشن وړاندې کړ.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ننګرهار ولایت په دره نور ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله د ۳۵۶ زیانمنو کورنیو لپاره د نغدو او غیرخوراکي مرستو د وېش لړۍ پیل کړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ننګرهار ولایت د دره نور ولسوالۍ قلعه شاهی کلی ته د سفر پر مهال د وروستۍ زلزلې له امله د ۳۵۶ زیانمنو کورنیو لپاره د ماشومانو د ساتنې موسسې (Save the Children)، د ناروې د کډوالو شورا (NRC)، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او د ملګرو ملتونو د نقوس صندوق (UNFPA) سازمان په همکارۍ د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۰ نېټه د نغدو او غیرخوراکی مرستو د وېش لړۍ پیل کړه.

محترم ترابی صاحب، له زلزله ځپلو کورنیو سره د کتنې پر مهال وویل، چې که څه هم دا مرستې بسنه نکوی خو د اوس لپاره دا مرستې واخلئ او موږ هڅه کوو چې ستاسو لپاره نورې مرستې هم برابرې کړو او هڅې روانې دی، چې هم د اسلامی امارت او هم د همکارو موسسو لخوا ستاسو لپاره دایمی سرپناه برابره شی.

د مرستو د وېش په دې لړۍ کې، د Save the Children لخوا هرې کورنۍ ته یو هایجن کېټ، یو تخته ترپال او د کور جوړولو وسایل او له یاد شمېر کورنیو څخه ۳۰۰ کورنیو هرې یوې ته ۲۰،۵۰۰ افغانۍ نغدې پیسې، د NRC لخوا ۵۵ کورنیو هرې یوې ته ۲۰،۵۰۰ افغانۍ نغدې پیسې، د IOM لخوا ۳۵۶ کورنیو هرې یوې ته ۸،۸۰۰ افغانۍ نغدې پیسې، له یادې جملې ۳۱۷ کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه او د UNFPA لخوا هرې کورنۍ ته یو تخته ترپال، یوه تخته کمپله او د ښځو لپاره د حفظ الصحې کېټونه ووېشل شول.

ورته مهال د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او د ماشومانو د ساتنې موسسې (Save the Children) استازو د مرستو د وېش په برخه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې په ځانګړې ډول د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له همکاریو او هغړیو څخه مننه وکړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ننګرهار د دره نور ولسوالۍ له زلزله‌ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه او د شهیدانو او ټپیانو کورنیو لپاره یې د نغدو مرستو د وېش لړۍ پیل کړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ننګرهار ولایت دره نور ولسوالۍ ته د سفر پر مهال په سوتن کلی کې د وروستۍ زلزلې له امله له زیانمنو سیمو څخه لیدنه وکړه او د دې پېښې له امله د شهیدانو د ورثه او ټپیانو لپاره یې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۰ نېټه د نغدو مرستو د وېش بهیر پیل کړ.

په دې سفر کې د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، قاری دادمحمد حسینی، د دره نور ولسوال، مولوی عبدالله روحانی او د ولسوالۍ یو شمېر مشرانو د محترم ترابی صاحب ملتیا کوله.

د ادارې لوی رئیس، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د تسلیت او خواخوږۍ پیغام د شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته ورسوه او څرګنده یې کړه چې د خیمو په شمول خوراکی او غیرخوراکی مرستې ډېرې زیانمنو خلکو ته رسېدلې دی. هغه زیاته کړه چې له موسسو سره په خبرو کې به ټینګار وکړو چې د خیمو او نغدو مرستو وېش ته لومړیتوب ورکړی. نوموړی وویل چې د دې ولسوالۍ په هوارو سیمو کې او یا هم په ښوه ولسوالۍ کې د زیانمنو لپاره د لنډمهاله سرپناه برابرولو په برخه کې به هڅې وکړی، خو زموږ اصلی تمرکز پر دغه دی، چې د اسلامی امارت او د موسسو د امکاناتو په کارولو سره دایمی هستوګنځایونه جوړ کړو.

په همدې مهال، ترابی صاحب د شهیدانو او ټپیانو لپاره په دعا کولو سره د نغدو مرستو د وېش لړۍ پیل کړه. د دغه پروګرام له مخې د هر شهید د کورنۍ لپاره شل زره (۲۰،۰۰۰) افغانۍ او د هر ټپی لپاره لس زره (۱۰،۰۰۰) افغانۍ ورکړل شوې او پاتې مرستې به زیانمنو ته د دره نور د ولسوال او د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس له لوری ووېشل شی.

د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، په یاد ولایت کې د طبیعي پېښو له امله ۷۲ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۰ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته، ۱۰۰ کیلو غنم، ۱ صحی کیټ، ۲ تختې کمپلې او ۱۵ کلچې صابون ووېشل شو.

د یادونې وړ ده، چې د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ژمن دی، چې په راتلونکي کې به هم د زیانمنو شویو کورنیو ملاتړ ته دوام ورکوي.

د میدان وردګ ولایت په مرکز کې ۱۰۷ میلي متره راکټ او یوه RTM وسیله کشف او خنثی کړل شوه

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د AREA ماین‌پاکۍ مؤسسې د تخنیکي ټیم سره په همکارۍ د دې ولایت د مرکز په کوټل تخت سیمه کې یو ۱۰۷ میلی‌متره راکټ او د RTM یوه وسیله کشف او د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۰ نېټه په خوندي ډول شنډ کړل.

له پېښو سره د مبارزې آمدګۍ ریاست له ټولو هېوادوالو غوښتنه کړې چې د هر ډول مشکوکو او چاودېدونکو توکو د لیدو په صورت کې سمدستي له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي تر څو د شنډولو لپاره اړین اقدامات ترسره شي.

روند توزیع مبلغ چهارده میلیون(۱۴,۰۰۰,۰۰۰) افغانی پول نقد برای ورثه شهدا و زخمیان زلزله اخیر در دره دیوه‌گل ولسوالی ځوکی ولایت کنر آغاز شد

محترم مولوی محمد مبین مفتون عمر، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، همراه با هیئت موظف بتاریخ ۲۰ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق روند توزیع کمک نقدی برای ورثه شهدا و زخمیان را در دره دیوه‌گل ولسوالی ځوکی ولایت کنر آغاز کرد.

محترم رئیس آمادگی مبارزه با حوادث کنر ضمن اتحاف دعا به روح شهدا و شریک ساختن پیام همدردی محترم الحاج ملا نور الدین ترابی با خانواده‌های زلزله‌زده گفت که بر اساس شفقت امیر المومنین حفظه الله، امروز روند توزیع مبلغ چهارده میلیون(۱۴,۰۰۰,۰۰۰) افغانی پول نقد، برای ورثه شهدا و زخمیان از سوی امارت اسلامی در دره دیوه‌گل ولسوالی ځوکی ولایت کنر را آغاز نمودیم. وی اضافه نمود که در این پروسه برای ورثه شهدا بالای هر شهید مبلغ بیست هزار(۲۰۰۰۰) افغانی و برای هر مجروح مبلغ ده هزار(۱۰۰۰۰) افغانی در نظر گرفته شده است.

قابل ذکر است که امروز این روند در ساحات چلس و اندر لچک ولسوالی ځوکی تطبیق شده و این برنامه در تمام ساحات زلزله زده در ولایت کنر ادامه خواهد داشت.

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۲ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د CDRO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په تخنیکی همکارۍ او د Cordaid موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۰ نېټه د دې ولایت په دره نور ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله ۶۲ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.

د مرستو په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته له سروې وروسته ۱۰،۲۱۵ افغانۍ چې د ۱۵۰ ډالرو معادل کېږي، ووېشل شوې او ټولټال شپږ سوه درې دېرش زره او درې سوه دېرش (۶۳۳،۳۳۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده چې د CDRO موسسې د سروې لړۍ روانه ده او ډېر ژر به نورو مستحقو کورنیو ته هم مرستې ووېشل شي.

د میدان وردګ ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې چاودېدونکی توکی کشف او خنثی کړل شول

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هیلو ترسټ ماین پاکۍ موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۱ نېټه د دې ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په جوی زرین سیمه کې یو کړۍ د پرسونل ضد ماین کشف او خنثی کړو.

په عین حال کې، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ماین پاکۍ تخنیکی ټیمونه په ټول ولایت کې مؤظف کړي، ترڅو په پاتې سیمو کې د چاودېدونکو توکو له امله رامنځته کېدونکی خطرونه کم کړي.

د یادونې وړ ده، چې په یاده سیمه کې د کابل-کندهار دویم سرک د جوړېدو په حال کې دی، د ماینونو دخطرونو له امله یې د جوړېدو چارې درول شوې وې دا مهال د جوی زرین سیمه د هیلوترسټ ماین پاکۍ موسسې د تخنیکی ټیمونو او لوړ کیفیت لرونکې ماشینرۍ په مرسته پاکه او بېرته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۲ زلزله ځپلو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ډاکار مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۱ نېټه د دې ولایت په علینګار ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله ۴۲ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته د بېلابېلو اړینو توکو یو سټنډرډ کېټ او یو مصرفی کېټ وویشل شول.

په پکتیکا ولایت کې ۲۳۳ کړۍ ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ډافا موسسې په همکارۍ، د یاد ولایت د اریوب ولسوالۍ په ګلغنډۍ او بیان خیلو کلی کې، ۲۳۳ کړۍ د پرسونل ضد ماینونه د تیرو درې میاشتو په لړۍ کې کشف او د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۱ نېټه په خوندی توګه خنثی کړل.
د دې عملیاتو په ترڅ کې، ۲۲۸ کړۍ پی ټو ډوله پاکستانی ماینونه او ۵ کړۍ پی ایم این ټو ډوله روسی ماینونه، چې د سیمه ییزو اوسېدونکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی وو، په خوندی توګه له منځه یوړل.
د یادونې وړ ده، چې په تیرو شو لسیزو کې په دې ولسوالۍ کې د پرسونل ضد ماینونو د پاکولو برخه کې د یادې پروژې په کچه بله پروژه نه وه پلې شوې.

د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې

د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۷۵۰ کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۱ نېټه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو غنم او له یادې جملې ۳۳ کورنیو ته چې د اورلګېدنې له امله یې کورونه ویجاړ شوی وو، هرې کورنۍ ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۳۹ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی توزیع نمود

براساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه RRDPO به امضا رسیده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با همکاری تخنیکی مؤسسه متذکره با حمایت مالی برنامه جهانی غذا (WFP)، بتاریخ ۲۱ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۳۹ خانواده آسیب‌دیده در مرکز مهترلام و ولسوالی علینگار آن ولایت کمک‌های غذایی توزیع نمود.
در این پروسه پس از سروی و در حضور مسئولین، به هر خانواده مقدار ۱۰۰ کیلوگرام آرد، ۹.۱ کیلوگرام روغن، ۱۲.۵ کیلوگرام دال و ۱ کیلوگرام نمک توزیع شد.

کشف و خنثی‌سازی ۹۳۶ مورد مهمات منفجرناشده در ولایت جوزجان

ریاست ملی آمادگی مبارزه با حوادث بر اساس تماس تلفنی دریافت‌شده از طریق شمارۀ اضطراری (۰۷۸۶۰۶۰۶۰)، ریاست هم آهنگی و انسجام ماین‌پاکی این اداره، تیم پاسخ‌دهی عاجل مؤسسه اومر را جهت اجرای عملیات بتاریخ ۲۱ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق به قریۀ قزل‌اپاق خور مربوط ولسوالی خواجه‌دوکوه ولایت جوزجان اعزام نمود.
گفتنی است که این عملیات، تیم یادشده ۹۳۶ فیر مختلف‌النوع مهمات منفجرناشده را که زندگی باشندگان محل را با خطر جدی مواجه ساخته بود، کشف، انتقال و به‌گونۀ مصون تخریب نمود.
همچنین به هدف جلوگیری از رویدادهای احتمالی ناشی از ماین ها و مواد منفجرناشده باقی‌مانده از جنگ‌ها، برنامۀ آگاهی‌دهی عامه برای باشندگان محل تدویر گردید. در این برنامه از مردم خواسته شد که در صورت مشاهده هرگونه مواد منفجرناشده یا مشکوک، فوراً با شمارۀ عاجل یادشده تماس حاصل نمایند.

په پکتیکا ولایت کې ۴۸ بېلا بېل ډوله ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې د هلوټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې تخنیکی ټیم، د یاد ولایت د شکین ولسوالۍ په شمس الدین چینی کلی کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوی ۴۸ عدده بېلابېل ډوله ناچاوده توکی کشف او د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۱ نېټه په خوندی توګه خنثی کړل.
ورته مهال، د یادې موسسې د سروې ټیم د پکتیکا ولایت په مرکز شرنه کې د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی ترسره کړل.
دا ناچاوده توکی د کارولو وړ نه وو او د سیمې د خلکو ځان او مال یې له ګواښ سره مخ کړی و، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو وویل، چې د چاودېدونکو توکو له امله د خلکو ځان او مال له خطر سره مخ وو، چې اوس مهال د دې ناچاوده توکو په پاکولو سره سیمه له خطر څخه پاکه او د سیمې اوسېدونکی له احتمالی مرګ ژوبلې او نورو زیانونو څخه خوندی پاتې شول. همدا راز، هغوی له خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لیدو په وخت کې دې ژر تر ژره د اړونده مسؤلینو سره اړینو اقداماتو ترسره کولو لپاره اړیکه ونیسی.

د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۴۴ کورنیو ته چې د اورلګېدنې له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۱ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو غنم او یو ورغتیایي کېټ ووېشل شول.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب ۱۴,۰۹۳ خانواده مساعدت‌های نقدی و غذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه کمک‌های بین‌المللی هنگری (HIA)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب در همکاری تخنیکی مؤسسه متذکره و حمایت مالی پروگرام غذایی جهان (WFP) برای ۱۴۰۹۳ خانواده در ۷ ولسوالی شامل اندخوی، خانچهارباغ، قرغان، قرمقول، دولت‌آباد، بلچراغ و پشتونکوت، بعد از سروی بتاریخ ۲۲ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی و غذایی توزیع نمود.
در این پروسه به هر خانواده مبلغ ۲۹۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ چهل میلیون‌و هشت صدو شصت‌نه هزارو هفت صد (۴۰,۸۶۹,۷۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.
همچنان در ۴ ولسوالی دیگر شامل شیرین‌تگاب، گرزیوان، بندر و لولاش برای ..... خانواده به هر یک ۵۰ کیلو آرد، ۴.۵۵ کیلو روغن، ۶.۲۵ کیلو دال نخود و ۰.۵ کیلو نمک توزیع گردید.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۴ کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډاکار مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په مرکز مهترلام کې د وروستۍ زلزلې له امله ۲۴ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۱ نېټه غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته د اړینو توکو یو ستنډرډ کیټ او یو د حفظ الصحې کېټ ووېشل شول.

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۰ کورنیو ته خوراکی او غیری خوراکی مرستې ووېشلې

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په لوړ میوند ولسوالۍ کې، د وچکالۍ له امله ۸۰ زیانمنو شویو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۲ نېټه خوراکي او غیرې خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته، ۱۰۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۱ تخته کمپله او ۳ جوړې څپلکې ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده، چې د یادې مرستې د وېشلو سربېره ۸۰ کسانو ته د ماینونو، وچکالۍ او سیلابونو د خطرونو په اړه عامه پوهاوی هم ورکړل شو.

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۹۸ زیانمنو کورنیو ته نغدې او غیر خوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د UNFPA موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې او د IOM سازمان په ملاتړ، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په دره نور ولسوالۍ کې، ۲۹۸ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۲ نېټه نغدې او غیر خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې د IOM سازمان له لورې ۸،۷۵۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال دوه میلیونه او شپږ سوه او اوه زره او پنځه سوه (۲،۶۰۷،۵۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې او همداراز ۱ باب خېمه او یو د ژمنۍ البسې کیټ هم ووېشل شو.
همدارنګه، د UNFPA موسسې لخوا هرې کورنۍ ته ۱ تخته کمپله او یوه تخته ترپال ووېشل شو.

کشف و خنثی‌سازی مواد منفجره ناشده در ولایت کندهار

به اساس هماهنگی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار، تیم تخنیکی پاسخ‌گویی عاجل مؤسسه هیلوترست (HT-QR-۰۹) در قریه حاجی‌تور ولسوالی ارغنداب و قریه وچ ولسوالی اسپین بولدک این ولایت، مهمات منفجر ناشده را کشف و بتاریخ ۲۲ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق به‌گونه مصون از بین برد.
قابل یادآوری است که به دلیل موجودیت این مهمات، جان و مال مردم در معرض خطر قرار داشت و عملیات ماین‌پاکی به اساس درخواست ساکنان محل راه‌اندازی گردید. با پاکسازی این مواد، ساحه از خطر مصون گردیده و باشندگان محل از تلفات احتمالی و سایر خسارات نجات یافتند.
مسئولین ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار از مردم خواستند تا در صورت مشاهده هر نوع مواد مشکوک یا منفجره، فوراً با مسئولین مربوطه برای اتخاذ اقدامات لازم تماس بگیرند.

په ځاځی آریوب ولسوالۍ کې د ډافا ماین‌پاکۍ مؤسسې د فعالیتونو تخنیکی څارنه او د پرسونل ضد یوه کړۍ ماین (PMN) شنډ کړل شو

د پېښو چارو د همغږۍ معین، الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجي وارث) د لارښوونې پر بنسټ، د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست، د نړیوالو اړیکو ریاست، د اطلاعاتو او نشراتو ریاست او د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له استازو څخه یو تخنیکی پلاوی د پکتیا ولایت د ځاځی اریوب ولسوالۍ د بایان‌خېلو په سیمه کې د ډافا ماین‌پاکۍ مؤسسې له فعالیتونو څخه لیدنه او څارنه وکړه.

د دې لیدنې پر مهال د یادې مؤسسې تخنیکی ټیم وتوانېد چې د PMN ډوله یوه کړۍ ناچاوده د پرسونل ضد ماین کشف او په بشپړه توګه یې شنډ او له منځه یوسی. څېړنو څرګنده کړه چې دا ماین د تېرو جګړو له وختونو پاتې و، چې که څه هم د کار وړ نه و، خو لا هم د سیمې اوسېدونکو ته جدی ګواښ ګڼل کېده.

دغه عملیات له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او نړیوالو مؤسسو د ګډو هڅو او نږدې همکارۍ بېلګه ده، چې موخه یې د خلکو د ژوند خوندی کول او له ماینونو او په ناچاوده توکو د ککړو سیمو پاکول دی.

په پای کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري تخنیکی پلاوی د څارنې پر دوام ټینګار وکړ او څرګنده یې کړه چې د نړیوالو مؤسسو سره ګډې همکارۍ به روانې وی څو د هېواد ټولې سیمې له ماینونو او ناچاوده توکو څخه پاکې شی او خلک په امن او آرام چاپېریال کې ژوند وکړی.

د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ډافا ماین‌پاکۍ مؤسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، دې مؤسسې په تېرو څلورو میاشتو کې د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ ۱۲۶،۰۲۷ مترمربع ککړې سیمې له ماینونو او ناچاوده توکو څخه پاکې کړې دی. په دې موده کې ۲۵۰ کړۍ د پرسونل ضد ماینونه، ۲ کړۍ د وسایطو ماینونه او ۷۲ ضربې بېلا بېل ډوله ناچاوده توکی کشف او په خوندی ډول له منځه وړل شوی دی.

همدارنګه، په همدې موده کې د عامه پوهاوی پروګرامونو له لارې د یادې ولسوالۍ ۴،۰۶۵ تنو اوسېدونکو ته د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو په اړه پوهاوی ورکړل شوی دی.

کشف و خنثی‌سازی مواد منفجره در ولایت لوگر

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر با همکاری مؤسسه بین‌المللی ماین‌پاکی هیلوترست، در منطقه آبچگان دشت مرکز این ولایت، سه عدد مهمات منفجر ناشده باقی‌مانده از جنگ‌های گذشته را کشف و بتاریخ ۲۳ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق به‌طور مصون خنثی نمود.

همچنین در جریان این عملیات، مقدار ۷۵ گرام مواد منفجره، سه عدد آتش‌بازی (پتاقی) و ۴.۵ متر فیته ثانیه سوز به شکل مصون از بین برده شد.

په پکتیکا ولایت کې ۱۶ بېلا بېل ډوله ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې، د هیلو ټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې د یاد ولایت شکین ولسوالۍ په شمس الدین چینې کلی کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۴ نېټه د ماین پاکۍ عملیات ترسره کړل او د دې عملیاتو په پایله کې یې ۱۶ بېلا بېل ډوله ناچاوده توکی ومونډل او په خوندی توګه یې له منځه یووړل.

دا ناچاوده توکی د تېرو جګړو پاتې شونې دی او د کاروولو وړ نه وو، خو د سیمې د خلکو ځان او مال یې له خطر سره مخ کړی وو، چې له خنثی کولو وروسته یې د احتمالی مرګ ژوبلې مخنیوی وشو.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د RRDPO موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په تخنیکی همکاری او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۴ نېټه د دې ولایت په مرکز مهترلام او علینګار ولسوالۍ کې ۴۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱۲.۵ کیلو دال او ۱ کیلو مالګه ووېشل شوه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار برای۵۶۴ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه کوردایت، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۵۶۴ خانواده در ولسوالی نمک‌آب که از اثر حوادث طبیعی آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی بتاریخ ۲۴ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده مبلغ ۲۸۶۰ افغانی پول نقد توزیع گردید که در مجموع مبلغ یک میلیون‌و شش‌صدو سیزده‌هزارو چهل (۱,۶۱۳,۰۴۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۳۱۷ خانواده بی‌بضاعت کمک خوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، برای ۳۱۷ خانواده بی‌بضاعت و مستحق بعد از سروی بتاریخ ۲۵ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک خوراکی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسئولین، به هر خانواده یک بوری گندم ۵۰ کیلویی توزیع گردید.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۷ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ناروې د کډوالو شورا (NRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۵ نېټه د دې ولایت په علینګار، علیشنګ او دولت شاه ولسوالیو کې ۷۷ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۹,۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال اووه سوه څلور پنځوس زره او شپږ سوه (۷۵۴,۶۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۸۵ اړمنو کورنیو ته نغدي او غیرخوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د AWEC موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په تګاب او تشکان ولسوالیو کې ۳۸۵ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۵ نېټه نغدي او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۲,۴۷۰ افغانۍ او د غیرخوراکی توکو ۱ کېټ ووېشل شول او ټولټال څلور میلیونه او اته سوه زره او نه سوه پنځوس (۴,۸۰۰,۹۵۰) افغانۍ نغدي پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې د پلچک جوړولو کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ده سبز ولسوالۍ په ترکو کلي کې د پلچک جوړونې کار چې ۴ متره پلنوالی، ۵ متره اوږدوالی او ۱.۷۵ متره لوړوالی لری تر بشپړېدو وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۵ نېټه رسما پرانېست او ګټې اخیستنې ته وسپاره.

د دې پروژې د پرانېستې په مراسمو کې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج مولوی نجیب الله انوری په مشرۍ، د مرکزی اداري تخنیکی پلاوی، د یادې ولسوالۍ د ولسوال مرستیال د کلیو ملکانو، مخورو سپین ږیرو او ځوانانو شتون درلود.

دا پروژه د (۴۹۷,۸۸۴) افغانیو په لګښت، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له خوا تمویل او د قراردادی شرکت له خوا بشپړه شوه چې په بشپړېدو سره یې د یاد کلی د ۳۰۰ کورونو د تګ راتګ ستونزه حل سوه.

محترم انوری صاحب، لمړی د یادې پروژې څخه هر اړخیزه لیدنه وکړه چې پروژه د نقشې سره سم د شرکت لخوا جوړه شوې وه او بیا له کومې ځنډ پرته د پروژې کار بشپړ شوی و. نوموړی خلکو ته د یادی پروژې په اړه هر اړخیزه وینا وکړه او د خلکو څخه یې وغوښتل تر څو د یادې پروژې په حفظ او مراقبت کې پوره همکاری وکړی.

د سیمې اوسېدونکو د یادې پروژې د بشپړېدو له امله د خوښۍ څرګندولو ترځنګ د اسلامی امارت له مشرتابه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او په ځانګړی ډول د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه وکړه او د دې نظام د بقا دعا یې وکړه.

له هغه وروسته له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس او ورسره مل پلاوی د کلکان او استالف ولسوالیو له پروژو څخه هم څارنه وکړه، چې تر دامهاله یې کارونه له نقشې سره سم جریان درلود او ۹۰ سلنه کارونه یې بشپړ شوی وو چې په لنډ وخت کې به ان شاالله ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۰۴ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د VDO موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د یادې موسسې په تخنیکی همکاری او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالی ملاتړ، د دې ولایت په دره نور ولسوالۍ کې ۴۰۴ زلزله ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۵ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۰۰ کیلوګرامه اوړه، ۱۰ کیلوګرامه غوړی، ۱۲.۵ کیلوګرامه دال، ۱ کیلوګرامه مالګه ووېشل شوه.

کارمندان ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث کاپیسا، پنجشر و پروان ورکشاپ دو روزه‌ای را در خصوص دسترسی و مصؤونیت کمک‌های بشردوستانه دریافت کردند

ورکشاپ دو روزه‌ی آموزشی تحت عنوان «ورکشاپ چندجانبه در خصوص دسترسی و مصؤونیت کمک‌های بشردوستانه» که از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با همکاری مؤسسه جنیوا کال و ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان برگذار شده بود بتاریخ ۲۵ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق به پایان رسید.

محترم مفتی محمد ادریس انوری، والی پروان که در برنامه پایانی اشتراک کرده بود گفت که احکام، قوانین و اصول اسلامی مبتنی بر مصؤونیت بشری است، ما به حیث مسلمانان مسؤولیت داریم مطابق ارشادات اسلامی عمل کرده و برای بهبود زندگی مردم تلاش نماییم.

در این برنامه، مولوی عبدالرحمن رحمانی، رئیس روابط بین الملل اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث نیز با تأکید بر اهمیت هماهنگی در روند امدادرسانی گفت که کمک‌های بشردوستانه حیثیت ملی دارد و مسؤولیت اداره ملی مبارزه با حوادث، تأمین هماهنگی و توزیع عادلانه این کمک‌ها به مستحقین است.

همچنان محمد خوشحال نصرت، نماینده مؤسسه جنیوا کال با قدردانی از همکاری مسؤولان محلی افزود که سازمان جنیوا کال در ۱۷ ولایت کشور فعالیت دارد و همکاری با ادارات محلی و نهادهای توزیع‌کننده کمک‌های بشردوستانه برای بهبود روند امدادرسانی اهمیت ویژه دارد.

قابل ذکر است که در این ورکشاپ، مسؤولان محلی، نمایندگان موسسات همکار و کارمندان ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث ولایات پروان، پنجشیر و کاپیسا حضور داشتند.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۷ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ناروې د کډوالو شورا (NRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۵ نېټه د دې ولایت په علینګار، علیشنګ او دولت شاه ولسوالیو کې ۷۷ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته یوه تخته دوه کسیزه کمپله او 4 تختې یو کسیزه کمپلې ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې څه موده وړاندې هم یادو کورنیو ته نغدي مرستې وېشل شوې وې، د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د قدردانۍ ترڅنګ د دغو مرستو د دوام غوښتنه وکړه.

د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱۳ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدې او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان(IOM) په مالي او تخنیکي همکارۍ، د دره نور او کوزکنړ ولسوالیو اړوند ۲۱۳ کورنیو ته چې د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنې شوې وې له سروې او ارزونې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۵ نېټه نغدې او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د ۱۳۰ ډالرو معادل ۸۷۵۰ افغانۍ او د بوټانو، جمپر، د ماشومانو کالي او نورو اړینو توکو لرونکي د ژمني البسې یو کېټ او یو باب خیمه ووېشل شوه او همدارنګه ټولټال یو میلیون او اووه سوه درې شپېته زره او اووه سوه پنځوس (۱,۷۶۳,۷۵۰) افغانۍ‌نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۷۰۰ کارگر در بدل کار مساعدت نقدی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ورلد ویژن، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با حمایت مالی مؤسسه یادشده، بتاریخ ۲۵ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۷۰۰ تن پروژه‌ای تحت عنوان «انعطاف‌پذیری از طریق رویکردهای مبتنی بر جامعه و کمک‌های نجات‌بخش» را در ولسوالی‌های چهلگزی و قیصار تطبیق نموده و مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این پروسه، با حضور مسئولان، به هر کارگر در بدل ۱۶ روز کار مبلغ ۵,۷۶۵ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ چهار میلیون و سی‌و پنج هزارو پنجصد (۴,۰۳۵,۵۰۰) افغانی برای این تعداد کارگران اختصاص یافته بود.

عامه پیغامونه :

9. وتړ په احتیاط چلوئ چې هدف ته ژر ورسېږئ چټک تګ مه کوئ چې د کومې پېښې د رامنځته کېدو له امله دربانديې ناوخته نشي

10. ماینونو او ناچاوده توکو ته لاس مه وروړئ که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکي ولیدل د ماین پاکي مسؤلینو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ

11. طبیعي پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورنې یو اړین اصل دې